# د 2025 - 2024 ښوونیز کال لپاره د Digital Dreamers انټرنیټ پیوستون آلې کارن تړون

د DeKalb کاونټي ښوونځي ولسوالۍ به د (SY 2024 - 2025) اکاډمیک کال په جریان کې د Pre-K - 12 ټولګیو زده کونکو لپاره یوې کورنۍ ته د انټرنیټ پیوستون وسیله ورکړي. د انټرنیټ پیوستون وسیلې به د DCSD (DeKalb کاونټي ښوونځي ولسوالۍ) ملکیت وي او باید د ولسوالۍ څخه د وتلو او/ یا د کال په پای کې د راټولنې پروسه کې بیرته وسپارل شي.

والدین او زده کونکي اړتیا لري چې د چلند او ټیکنالوژۍ کارولو په اړه په دې سند کې د ورکړل شویو لارښوونو تر څنګ د ښوونځي، ټولګي او د ښوونځي د ولسوالۍ ټولې پالیسۍ او طرزالعملونه ولولي، لاسلیک او رعایت یې کړي.

**د اړیکې نیولو کس:** که تاسو پوښتنې یا اندیښنې لرئ نو مهرباني وکړئ د خپل ښوونځي اداري سره اړیکه ونیسئ.

## د انټرنیټ پیوستون وسیلې د کاروونکي تړون

### د وسیلې ترلاسه کول

والدین او زده کونکي باید د وسیلې د صادریدو څخه دمخه دا تړون لاسلیک کړي او بیرته یې ښوونځي ته وسپاري.

### وسیله بیرته سپارل

وسیلې به د ښوونیز کال په پای کې ښوونځي ته بیرته وسپارل شي. د DCSD لخوا د صادر شویو وسیلو د کارولو حق هیچا ته نه انتقالیږي او د وسیلې صادریدونکي ښوونځي کې د زده کوونکي نوم لیکنه ختمیدو سره سم پای ته رسیږي.

هغه زده کونکي چې د کوم دلیل لپاره بل ښوونځي ته انتقالیږي، ښوونځی پریږدي یا له ښوونځي څخه خارج شوي وي یا یې په ښوونځي کې نوم لیکنه پای ته رسیدلې وي باید خپلې وسیلې د ښوونځي د پریښودلو / یا نوم لیکنه پای ته رسیدو په وخت کې بیرته وسپاري.

هر هغه زده کونکي چې د وسیلې په بیرته سپارلو کې پاتې راشي په عوض کې به هغه د بدیلې وسیلې او د نورو لوازماتو د بشپړ لګښت د تادیه کولو پابند وي، او ښایي د درجې کارتونه، ټرانسکرپټونه، ډپلومې یا د پرمختګ سندونه تر هغه وخته پورې زده کوونکي ته له ورکولو څخه منع کړای شي ترڅو چې د وسیلې بیرته سپارنه پای ته رسیدلې نه وي.

### زیان رسیدل یا ورکیدل

که چیرې یوه وسیله زده کوونکي ته د صادریدو وروسته په قصدي توګه یا د بېغورۍ له امله خرابه، ورکه یا غلا شي نو زده کونکی او د زده کونکي والدین / سرپرست به په دې سند کې د بیان شویو جریمو د تادیه کولو مسؤلیت په غاړه ولري.

### بېغوري

که چیرې یو وسیله په ورته ښوونیز کال کې څو ځله خرابه شوې وي نو د ولسوالۍ اداره به د انټرنیټ پیوستون وسیلې بشپړ بدلولو په شمول هغه اقدامات چې باید ترسره شي وټاکي.

### د مسؤلیت له مخې د وسیلې کارول

د ولسوالۍ لخوا صادر شویو وسیلو ټول کارونکي باید د ولسوالۍ په پالیسۍ او عملیاتي لارښوونو *IFBGA* کې ذکر شوي توقعات تعقیب کړي: *د مسؤلیت له مخې د شرکت شبکه IDکارول: د زده کونکي دیسپلین / د زده کونکي د چلند قانون* او *JS: د زده کونکي جریمې، فیسونه او لګښتونه.* د دې توقعاتو په رعایتولو کې پاتې راتلل به د زده کونکي د تطبیق وړ انضباطي پایلو لامل شي. د ولسوالۍ ټولې پالیسۍ په www.dekalbschoolsga.org کې موندلی شئ.

دا وسیلې د CIPA (د ماشومانو د انټرنیټ د خوندیتوب قانون) موافق دي چې د ښوونځي ولسوالۍ لخوا پاکې شوي او یواځې د لارښوونې موخو لپاره کارول کیږي. پداسې حال کې چې زده کوونکي د ښوونځي څخه بهر وي والدین/سرپرستان په بشپړه توګه د زده کونکي د وسیلې کارولو نظارت لپاره مسوول دي. زده کونکي نشي کولی نامناسب چلند څرګند کړي یا په هر وخت، په هر ځای کې د دغې وسیلې له لارې منع شویو موادو ته لاسرسی ومومي. که چیرې زده کوونکي دغه وسیله د ښوونځي په چاپیریال کې یا د ښوونځي چاپیرل څخه بهر د نامناسب فعالیتونو لپاره وکاروي نو هغوی به د انضباطي او/یا قانوني کړنو سره مخ شي.

**محرمیت**

د ولسوالۍ لخوا صادر شوې وسیلې د DCSD ملکیت پاتې کیږي. نو له همدې امله د وسیلې له لارې ترسره شوي هر څه پټ نه دي. دا پدې مانا ده چې د DCSD کارمندان کولی شي چې د ولسوالۍ لخوا صادر شوې د هرې وسیلې منځپانګې/محتویات په هر وخت کې ضبط کړي او پلټنه یې وکړي.

د DeKalb کاونټي ښوونځي ولسوالۍ د ماشومانو په آنلاین بڼه د محرمیت خوندیتوب قانون (**COPPA**)، د ماشومانو د انټرنیټ خوندیتوب قانون (**CIPA**) او د کورنۍ د زده کړې حقونو او محرمیت قانون (**FERPA**) ټول اړخونه پیژني.

د DeKalb کاونټي ښوونځي ولسوالۍ د زده کوونکي د کور شبکې، وسایل یا د انټرنیټ پیوستون څارنه نه کوي. ولسوالي د ولسوالۍ لخوا د صادر شویو وسیلو څارنه کوي. سربیره پردې، DCSD د وسیلې له لاسه ورکولو یا غلا کیدو په صورت کې د ولسوالۍ د صادر شویو وسیلو موقعیت تعقیبوي.

**د وسیلې میاشتنۍ کارونه**

د DeKalb کاونټي ښوونځي ولسوالۍ به میاشت په میاشت د وسیلو څارنه وکړي. که چیرې ولسوالۍ د کم استعمال په اړه یادونه وکړي نو ښوونځي به والد(والدینو) سره اړیکه ونیسي ترڅو وګوري چې کوم ډول مرستې چمتو کیدی شي. که چیرې کارول کم وي یا د منلو وړ کارونې ترون څخه سرغړونه شوې وي نو ولسوالي حق لري چې له یوې کورنۍ څخه غوښتنه وکړي ترڅو وسیله بیرته راستنه کړي.

**د وسیلې د زیان، ضایع کیدو یا د غلا په صورت کې جریمې**

که د کوم دلیل له مخې زده کونکي ته د صادریدو وخت څخه وروسته په قصدي توګه یا د بېغورۍ له امله کومه وسیله او/یا لوازمات ورک یا غلا شي نو زده کونکي او والدین / سرپرست د لاندې فیسونو ورکولو مسوولیت په غاړه لري:

**د انټرنېټ پیوستون وسیلې بدلون**

| | |
|---|---|
| **ورکیدل/غلاکیدل/نه ترمیمېدونکی زیان رسیدل** | • د بدلولو بشپړ فیس (90.00$ د پلټنې لپاره موجودې وسیلې پورې اړه لري) |
| **د ترمیم وړ زیان رسیدل** | • زیانمنې شوې وسیلې به د DCSD ټیم لخوا ارزول کیږي ترڅو معلومه کړي که چیرې ترمیم یو اختیار وي. که چیرې رسیدلی زیان د ترمیم وړ نه وي نو د بدیل بشپړ فیس تادیه کولو ته به اړتیا وي. پورته برخه وګورئ. |

** د وسیلو لپاره د بدیل په بشپړ لګښت کې وسیله، ټول لوازمات، د سافټویر جوازونه او سیټ اپ شامل دي.*

**غلاکیدل:**

که چیرې وسیله زده کوونکي ته د صادریدو وروسته غلا شي نو زده کوونکی او والدین / سرپرست به د لاندې خبرو مسوولیت په غاړه ولري:

- د ښوونځي اداري ته خبر ورکول
- پولیسو ته راپور ورکول
- د بدلون بشپړ فیس تادیه کول

**د خپل ښوونځي څخه بل ته د نقلیدو/د ښوونځي د پرېښودلو پرمهال د وسیلې یا لوازماتو په بیرته سپارلو کې پاتې راتلل:**

هغه زده کونکي چې له خپل ښوونځي څخه بل ته نقلیږي یا ښوونځی پریږدي او د وسیلې یا کوم لوازماتو په بیرته سپارلو کې پاتې راشي نو د انټرنېټ پیوستون وسیلې په عوض کې به د بدلون بشپړ فیس تادیه کولو مسوولیت په غاړه ولري.

**د والدینو اجازه او څرګندونه**

د دې ترون په لاسلیکولو سره تاسو دا په ګوته کوئ چې تاسو په دې سند کې ورکړل شوې لارښوونې لوستلې او ورباندې پوهیږئ او خپل زده کونکي ته د یوې وسیلې صادرول منئ. تاسو پوهیږئ چې د انټرنیټ پیوستون وسیله د DCSD ملکیت دی او باید د ولسوالۍ څخه د وتلو او/یا د راټولولو پروسې په پای کې بیرته ستنه کړی شي. تاسو پوهیږئ چې ستاسو زده کونکی/زده کوونکې د خپلې پاملرنې پرمهال د وسیلې او لوازماتو ته د زیان رسیدو، ورکیدو یا غلا کیدو لپاره مسوول دی/ده او په دې سند کې د بیان شویو جریمو سره موافق یاست.

تاسو پوهیږئ او دې سره موافق یاست چې کله زده کوونکی د ښوونځي ساحې څخه بهر وي نو تاسو په بشپړه توګه د هغه لخوا د وسیلې کارولو نظارت لپاره مسوول یاست او وسیله باید یواځې د لارښوونې اهدافو لپاره وکارول شي. تاسو پوهیږئ چې که چیرې زده کوونکي وسیله د کوم نامناسبه یا غیر مشروع فعالیتونو لپاره وکاروي نو هغوی به انضباطي کړنو سره مخ شي.

تاسو او ستاسو زده کوونکی موافق یاست چې DeKalbد کاونټي ښوونځي ولسوالۍ د وسیلو د ناوړه استفادې، ناسم کارولو، لاسوهنې، هک کولو یا خرابولو له امله د ارادي یا غیر ارادي زیان لپاره مسؤله نه ده. هر هغه زده کونکی کارونکی چې د DeKalb کاونټي ښوونځي ولسوالۍ د انټرنیټ د منلو وړ کارونې تړون سره سم چلند نه کوي هغه به د سیمه ییز ښوونځي اداري لخوا د تطبیق شویو انضباطي اقداماتو سره مخ شي. ښايي د زده کونکو سرغړونې د لاسرسي امتیازاتو د توقیفولو یا له منځه وړلو سربیره د مناسب انضباطي کړنې پایله هم ولري.

**د والد/سرپرست نوم**

**(مهرباني وکړئ په واضحه ډول یې ولیکئ)** ____________________________

**ولی/سرپرست**

**لاسلیک:** ________________________________________ نېټه: ______________

## د زده کوونکي ترون او لاسلیک

1. زه به د خپل ښوونځي لخوا د صادر شوي وسیلې ساتنه کوم.
   a. تارونه او کیبلونه باید په احتیاط وسیلې سره وصل شي ترڅو د زیان رامنځته کیدو مخه ونیول شي.
   b. وسیلې باید هیڅکله په خلاصې الماری، موټر یا کومې غیر څارل شوې ساحه کې پرینښودل شي.
   c. د سافټویر / هارډویر په اړه د هر ډول ستونزو راپور د حادثې IQ - زده کونکي ته د مرستې او معلوماتو چمتو کوونکي پورټل له لارې ورکړئ.
   d. کله چې وسیله نه کارول کیږي نو په ښه خوندي او داسې چاپیریال کې یې کیږدئ چې تودوخې یې څارل کیږي.
2. زه به هیڅکله د خپل ښوونځي لخوا صادره شوې وسیله نورو خلکو ته په موقتي توګه کارولو لپاره ورنکړم.
3. زه به خواړه او مشروبات د خپلې وسیلې څخه لرې وساتم.
4. زه به د خپلې یا د ښوونځي لخوا د صادر شوي وسیلې هیڅ برخه خلاصه یا هیک نه کړم او نه به پکې غیر مجاز سافټویرونه نصب کړم.
5. زه به د خپلې وسیلې د هیڅ ډول ترمیم هڅه **ونه کړم**
6. زه به د خپل ښوونځي لخوا صادره شوې وسیله په چمتو شوي پوښ کې په وړلو سره خوندي وساتم.
7. زه به په ښوونځي، کور یا بل چیرې د خپل ښوونځي لخوا د صادره شوې وسیلې کارولو لپاره له مناسبو او د ښوونځي د توقعاتو سره سم طریقو څخه کار واخلم. که چیرې زه خپله وسیله په نامناسب ډول وکاروم نو زه ښایي د خپل ښوونځي لخوا د انضباطي کړنو سره مخ شم.
8. زه به د ښوونځي لخوا صادرې شوې وسیله باندې (د سټیکرو، مارکرو او داسې نورو له لارې) سینګارونه **ونه کړم**. زه به د ښوونځي لخوا صادره شوې وسیله باندې موجود د سیریل شمیرې سټیکر خراب نکړم.
9. زه پوهیږم چې زما د ښوونځي لخوا صادره شوې وسیله هر وخت پرته له خبرتیا څخه د تفتیش او پلټنې تابع ده. **زما لخوا د وسیلې سره یا د وسیلې له لارې ترسره شوی <u>هیڅ شی</u> پټ نه دی.**
10. زه به خپل پټنوم (پټنومونه) د خپل ښوونځي ښوونکي یا مشر یا د خپل والدین/سرپرست څخه پرته له بل چا سره شریک نه کړم.
11. زه پوهیږم چې د انټرنیټ د پیوستون وسیله د DCSD ملکیت دی او باید د راټولولو پروسې په جریان کې له ولسوالۍ څخه د وتلو او/یا د تعلیمي ښوونیز کال پای کې راستنه کړی شي.
12. زه پوهیږم چې که چیرې زه خپله وسیله زیانمنه کړم یا یې له لاسه ورکړم یا دا چې هغه غلا شي نو زه د بدیلې وسیلې د لګښت تادیه کولو پابند یم.

**زه موافق یم د وسیلې د کارن تړون او د زده کوونکي تړون کې ټاکل شویو مقرراتو سره.**

**د زده کوونکي نوم (واضح یې ولیکئ):** ________________________________________

**د زده کونکي لاسلیک:** ________________________________________________ نېټه: _____________